د افغانستان ملي تحریک
2013 ۱۳۹۲
AFGHAN NATIONAL MOVEMENT

# شمایل نبوي

Ketabton.com

ناظم

د خمکنو میا عمر (رح)

سریزه او سمون

زلمی هیوادمل

۱۳۹۴ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شمایل نبوي(ص)

ناظم:

د ثمکنو میاعمر(رح)

سریزه او سمون

د

سرمحقق زلمی هیوادمل

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: شمایل نبوي (ص)

لیکـــوال: د ثمکنو میاعمر (رح)

تدوین او تحقیق: سرمحقق زلمی هېوادمل

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېـبپـاڼـه: www.melitahrik.com

کمپوز/ډیزایـن: محمد شعیب شیرزی

چاپځای: سهر مطبعه، کابل

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۷۶)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحريك يادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) کال په پيل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهير کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل ديني، علمي، ادبي او ټولنيز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحريك دا ژمنه د ياد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د يوې پرتمينې غونډې په ترڅ کې يې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحريك په ياده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهير کې به انشاء الله د خداى (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبيعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتيا لري، خو ملي تحريك ټينګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريك هيله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحريك له ټولو هغو ليکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهير کې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا کړې او دا فرهنګي بهير يې بريالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هيله

د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ښمکنو میا عمر (رح) او دده شمایل نبوی (ص)

د ښمکنو میا عمر د هغو روحاني او عرفاني شخصیتونو په ډله کې ولاړ سړی دی چې د روحانیت انګازې یې تر ملکونو پورې خورې وې او ډیرو د الهی مینې پتنګانو له ده څخه روحاني او عرفاني فیض موندلی دی.

د ښمکنو میا عمر داسې روحاني شخصیت و چې یوازې په تلقین او تبلیغ او د خلکو په روحاني روزنه یې بسنه نه کوله، بلکه قلم یې په لاس کې و او د خپلو افکارو د بیان او خپل ولس ته د پراخ او زیات خدمت په منظور یې په پښتو، پارسي او عربي ژبو آثار هم لیکل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو ژبې او ادب ته خدمت نه يوازې په ده پورې منحصر پاتې شو، بلکه په کورنۍ کې يې زامنو او همدا راز دده ډيرى مريدانو پښتو ادب او پښتو ژبې ته داسې خدمتونه وکړل چې تر هغې پښتو ژبه او ادب موجود وي، نو د ميا عمر (رح) دده د کورنۍ او مريدانو نومونه به تل ورسره ژوندي وي.

د مياعمر (رح) په زامنو کې محمدى (١٢٢٠ هـ ق مړ) او احمدى د پښتو ژبې لوى شاعران او د زياتو مؤلفاتو خاوندان دي او له دې سربيره محمدى صاحبزاده چې د پښتو آثارو د خوندى کولو او حفظ په لاره کې کوم کارونه کړى دي، هغه د پښتنو په فرهنگى تاريخ کى لوړ ځاى لري. د دولسمى هجرى پيړۍ په دوران کې د نوموړى محمدى صاحبزاده په پرمايښت د پښتو ډير ناياب متون د زين الدين پيښورى او گل محمد پيښورى په ښکلو خطونو خطاطى شوي دي. دده په پرمايښت کښل شوې خطى نسخې ځينى د خط او نورو ځانگړنو له پلوه هنرى ارزښتونه هم لري (١)

کله چې زموږ مشرانو فرهنگيانو د پښتو ادبياتو په رشد کې د ځينو پښتنى کورنيو پر کارونو خبرى کړې دي، نو يې د ميا عمر (رح) کورنۍ هم نه ده هيره کړې، او دا کورنۍ يې د پښتنو په فرهنگى کورنيو کى شامله بللى ده (٢)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دديې فرهنګي کورنۍ مشر ميا عمر(رح) دی چې په دې ليکنه کې يې پر احوالو او آثارو لږ لږ خبرې کوو، او بيا يې د شمايل نبوي رساله څېړو.

**(۱) ميا عمر(رح):**

د تيرې شلمې ميلادي پيړۍ له دويمې نيمايي کلونو را پدې خوا د پښتو په ادبي، عرفاني او فرهنګي څېړنو کې د ميا عمر(رح) او دده د آثارو او افکارو پر يادونو ډير پيښ‌شوی. متفرقې يادونې، مقالې، د ځينو څېړنو په ترڅ کې بحثونه او حتی مستقل آثار دده پر احوالو او آثارو ليکل شوي دي.

د پښتو له ادبي تذکرو څخه د پښتانه شعراء په لړۍ کې هم دده احوال او آثار ضبط شوي دي، (۳) او د ميا صاحب(رح) څيره مونږ ته د يوه پياوړي فرهنګي، نوميالي اجتماعي پيشوا، او منلي روحاني لارښود په توګه ځليږي، که وو ايو چې دده پر احوالو بيا څه ليکل اضافي خبره ده، نو دا به کومه زياته خبره نه وي، خو دا چې ما دده يو نا چاپ او مستقل اثر چاپ ته آماده کړی دی، نو د متن څېړنې د اساساتو او لارښوونو له مخې زه اړ يم چې ددغه اثر د ناظم په توګه پر ميا صاحب هم مختصر څه ووايم (۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میا صاحب پر احوالو خورا مغتنم اثر چې د ځانګړې رسالې په بڼه چاپ شوی دی، هغه د استاد رشاد لیکلی: د ځمکنو میا عمر (رح) نومی رساله ده، چې مسایل پکې په خورا دقیق او تحقیقي ډول طرح شوي دي.

زه په دې ځای کې د میا صاحب احوال د استاد رشاد څېړنو او ځینو نورو منابعو ته په پاملرنه ډېر لنډ وړاندې کوم:

د میا صاحب نوم محمد عمر و، پلار یې ابراهیم، نیکه یې کالا خان او غور نیکه یې فقیرخان نومیده.

د استاد رشاد د څېړنو له مخې د میا صاحب د زوکړې نیټه باید ۱۰۸۰ هـ ق کال وي (۵) ځکه که دا کال دده د زوکړې کال و نه منو، نو بیا تر ۱۰۹۹ هـ ق کال دمخه د علم د زده کړې لپاره کابل ته دده د راتګ خبره ناشوني غوندې ښکاري. د میا صاحب د زوکړې نورې سنې هم خلکو راوړې دي، خو د استاد رشاد د باور له مخې ۱۰۸۰ هـ ق کال دده د زوکړې سنه کیدای شي.

میا عمر (رح) په نسبي لحاظ ترکلانیو پښتنو ته منسوب و. دده پلار د پنجاب په فرید آباد کې اوسیده، هوری مړ دی او د راوی د سیند پر غاړه ښخ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میا صاحب د زوکړې په باب د اروابناد عبدالحلیم اثر رایه داده چې دی د پنجاب په فرید آباد کې زوکړی دی او د ۱۲ یا ۱۴ کالو په عمر خپل مورني کلی ثمکنو ته راغلی دی (۲).
خو استاد رشاد د میا عمر(رح) له خپل اثر خزینة الاسرار څخه داسې سند را نقل کړی دی چې د اروابناد اثر، قول پرې ماتیږي.

په خزینة الاسرار کې میا صاحب لیکلی دي: "مولد پشاور است و نشو و نما هم انجا یافته ام" (۷) میا صاحب د خپلې ترجمه کړې خلاصهٔ کیدانی په مقدمه کی هم د خپل نسب او کورنۍ په باب څه خبرې کړې دي، چې دا لاندې بیتونه یې زموږ د بحث د بشپړتابه له مراتبو سره مرسته کوي، میا عمر(رح) ویلی دي:

اوس بیان کوم و تاته د نسب خپل　　او راتله و ثمکنو ته د سبب خپل
که زما د نوم په زړه کی لرې شوق　　نوم زما محمد عمر واوره په ذوق
ثمکنی په پښاور کی می مسکن دی　　باجوړ د پلار نیکه زما وطن دی
سیادت راسره کاندی پیوستون　　په خښی سره که یادیم زه پښتون
زه سید یم په سبب ددی جدې　　اعلا جد می و پیدا له سیدې (۸)

د میا صاحب بشپړ نوم، لکه څنګه چې ده خپله ویلی دي (محمد عمر) و، خو په خلکو کې یې په میا عمر شهرت درلود

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دده مبارک نامه پښتو فولکلور ته په همدې بڼه لاره پیدا کړې ده، لکه په یوه لنډۍ کې چې راغلي دي:

پــــــه پیښور کې ولیان ډیر دي
کږې جنډې په میاعمر ولاړې دینه

میا صاحب تر ۱۰۹۹ هـ ق کال دمخه کابل ته د علم د زده کړې لپاره راغلی و، تر ۱۱۰۳ هـ ق کال دمخه له کابله پیښور ته ولاړ او بیا له پیښوره کوهاټ ته ولاړ او له هغه ځایه د بهیرې، خوشاب، ډیرهٔ اسماعیل خان، ډیرهٔ غازي خان او ملتان له لارې لاهور ته ورسید او په ۱۱۰۴ هـ ق کال په لاهور کې د شیخ سعدي لاهوري (۱۰۳۳ – ۱۱۰۸ هـ ق) په حضور مشرف شوی دی (۹).

له لاهور نه بیرته پیښور ته راغلی دی، دلته د پیښور په سیمو کې یې د چا میرزایي کوله، خو کله چې خبر شو چې دا سړی سود خور دی، نو یې د هغه نوکري پریښوده او بیا یې د یو بل چا زامنو ته درس وایه، په ۱۱۰۸ هـ ق کال کې یې دغه نوکري هم له لاسه ورکړه.

استاد رشاد کښلي دي چې میا صاحب(رح) په ۱۱۰۵ هـ ق کال د شیخ سعدی لاهوري لاس نیوی وکړ او د نقشبندي مجددیه طریقې تلقین یې ومونډ. (۱۰) کله چې شیخ سعدی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وفـات شـو، نـو میـاعمر (رح) بیـا د شـیخ یحیـی اټکـی (۱۰۴۱ – ۱۱۳۱ هـ ق) لمن ونیوله، او له ده څخه یې فیض بیاموند.

د سـلوک لـوړو مقامـاتو تـه ورسـید او د ارشـاد اذن یـې حاصل کړ. میا صاحب د خپلی عرفـانی لارې او مشـرب پـه بـاب ویلی دي:

دا بیان کرسی نـامه د نقشبند ده — له حضرت صدیق تر ما پورې پیوند ده
ښکوم زه بیان د سلسلی د نقشبند — طریقه ده هـم په زړه مـــــی دلپسند
په مذهب د حنفی سنی مذهب یم — طریقهٔ نقشبندی کې پاک مشرب یم (۱۱)

لـه شـیخ سعدی لاهوری او شـیخ یحیـی اټکـی سربیره لـه مـولانا محمد قطب مشوانی (۱۱۰۸ هـ ق مړ) سید عبدالشـکور اټکی (۱۱۱۳ هـ ق مړ) او شیخ عبدالغفور پیښـوری (۱۱۱۲ هـ ق مړ) سره محشورتیا او صحبتونو هم د میا عمر (رح) په روحـانی روزنه کې برخه لرلی ده.

کله چې په ۱۱۳۱ هـ کال شیخ یحیی اټکی وفات شو، نـو له لیریو لیریـو ملکونـو څخـه خلکـو د روحـی روزنـی پـه منظـور میاصاحب ته رجوع کوله او د شـهرت انګازې یـې هرې خـوا تـه خورې شوې.

شاهان او ګدایان یې حضور تـه ورتلل او دده له روحانیتـه یې فیضونه موندل، لنګر یـې جاری و، پـه لیریـو، لیریـو سـیمو کې یې خلیفه ګان او ماذونان درلودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوی احمد شاه بابا (۱۱۲۰ – ۱۱۸۲ هـ ق) هم ده ته ارادت درلود، مسعود ګل د میا صاحب د مناقبو په کتاب کې ویلی دي:

دا رنګ نقل اورم زه له خاص و عام — له ما واوره په اخلاص ته دا کلام
چې بادشاه د زمـــانی جهان پناه — مسمی وه پـــه نـــامه د احمد شاه
ډیر محکم و په اخلاص په اعتقاد — په خدمت د میاصاحب و ډیر منقاد
چې به راغی پیښور ته نور به تل — په ګلزار د څمکنو بـه و، بلبل (۱۲)

میا صاحب تر سلوکلو زیات عمر درلود او خپل عمر یې ګرده، په زده کړه، تدریس، تلقین، ارشاد، اذن، او د ولسونو په روحانی او اجتماعی روزنه، مطالعه او تألیف تیر کړ، بالاخره د ۱۱۹۰ هـ ق کال د بزرګی د میاشتی، په لومړۍ نیټه او یا تر رجب د دمخنۍ میاشتی په ۲۹مه وفات شوی دی (۱۳) او د پیښور د توابعو د څمکنو په کلی کې ښخ کړل شو، زیارت یې اوس هم هوری شته او حاجتمندان د خپلو مرادونو د پوره کولو لپاره ورته ورځي.

د میاصاحب په مړینه ډیرو پښتنو شاعرانو مرثیې ویلی دي، او ډیرو یې د مرګ تاریخی مادې په شعرونو کې د معما په ډول نغښتی راوړي دی، لکه د پښتو ژبی نازکخیال شاعر کاظم خان شیدا (۱۱۹۴ هـ ق مړ) چې یې د مرګ تاریخی ماده په یوه نظم کې داسی راوړې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

میا عمر صاحب په خپل دوران کی   چې کشاده یې د فیض باب وه
شاه و گدا یې پـه در حاضر وو   مرجع د خلقو، عـالم مآب وه
تاریخ یـې دادی د رحلت واوره   شیخ اجل وه، قطب اقطاب وه (۱۴)

میا صاحب په خپل پر باره ژوند کې په پښتو، پارسی او عربی ژبو آثار لیکلی دی، لکه چې ده خپله ویلی دي:

تصانیف له دې فقیره چې عیان دي
په فارسی پـه عربی کی نمایان دی
په پښتو ژبه هم مـاکړي بسیار دي
ځنی ځنی بیا مشهور په هر دیار دی (۱۵)

زه به ددې لیکنې په دې برخه کې دده پر معلومو تألیفاتو څه خبرې وکړم:

**الف، خزینة الاسرار:**

د میا عمر (رح) په لاس ته راغلو آثارو کې د تألیف د قدامت پر اساس قدیمترین تألیف خزینة الاسرار نومیږي چې په ۱۱۱۲ هـ ق کال کې یې تألیف کړی دی، ځینی زیاتونی یې په ۱۱۱۳ هـ ق کال هم پکی کړې دي.

په دې کتاب کې د شیخ آدم مشوانی، شیخ سعدي لاهوری او شیخ یحیی اټکی احوال، خوارق او کرامات په مفصل ډول راوړل شوي دي. له دې سربیره په دې کتاب کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نقشبندیه طریقی د مشرانو او مرشدانو بیان هم په اجمالی ډول راغلی دی.

دا کتاب په پارسی نثر لیکل شوی دی او د میاصاحب د پارسی انشأ او پارسی نثر لیکلو شیوه ترې راښکاري. په دې کتاب کی د میاصاحب ډیر ښکلی پارسي قصاید او ځینی نور منظومات هم راغلی دي. ددې کتاب له مطالعی ښکاری چې میاعمر (رح) د پارسی نظم او نثر لیکلو عالی استعداد درلود. خزینة الاسرار تر اوسه نه دی چاپ شوی، یوه ناقص الاخر نسخه د افغانستان د علومو اکادیمی په کتابخانه کی شته او یوه بله نسخه یې استاد رشاد په لاهور کې ښوولی ده.

**ب، خلاصهٔ کیدانی:**

خلاصهٔ کیدانی په عربی ژبه د لمانځه په باب د حنفی فقهی یو کتاب دی، چې لطف الله نسفی کیدانی (۷۵۰ هـ ق مړ) لیکلی دی. دا کتاب یوه مقدمه او اته بابه لري. میا عمر (رح) ددغه کتاب مطالب په پښتو نظم ترجمه کړی دی. ددې ترجمی ټول بیتونه ۳۴۳ دي. د میاصاحب د پښتو ترجمی د لومړی باب شکلی سکښت قصیده ډوله نظم دی، خو نور بابونه یې د مثنوی په کالب کې نظم شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د استاد رشاد له څېړنې سره سم د خلاصې د پښتو ترجمې کال ۱۱۴۲ هـ ق یا ۱۱۴۸ هـ ق ښوول شوی دی.

دا رساله میا صاحب د خپل زوی احمدی صاحبزاده (۱۲۳۳ هـ ق مړ) په غوښتنه په پښتو ترجمه کړی ده، په دې باب د میا عمر (رح) خپله وینا دا ده:

نورالعین محمدی مـــــشر فرزند    ورپـــــــسی عبیدالله دی ارجمند
په میاګل سره مشهور پـــه هر دیار    راغی کښیناســـت ونیو ده زما کنار
راته کاندي مسایل چی د صلوة دي    خلاصه کی عجایب پـــه درجات دی
باری دا کتاب پـــــه ژبه عربی دی    کله پوه پرې هر طالب غبی صبی دی
مسایل د خلاصی که په پښتو شی    ډیر په کار به دا کتاب د پښتنو شی
په بار بار چی د میاګل وه دا الحاح    په پښتو ژبه زمـــــا وشوه صلاح

د میا صاحب ترجمه کړې خلاصه دده له ډیرو نورو منظومو آثارو سره یوځای د هشنغر د فضل حق اخوندزاده په زیار دده له (۷۸) اضافی بیتونو سره چاپ ته آماده شوې ده.

د خلاصې پښتو ترجمه په ۱۲۹۸ هـ ق کال د (خلاصه کیدانی افغانی معۀ دیګر مسایل مفیده) په نامه د دهلی په فیض عام مطبعه کې چاپ شوې ده.

په دې چاپی نسخه کې د میاصاحب له خوا د خلاصی د اتو بابونو له پښتو ترجمی سربیره، د فضل حق اخوندزاده ۷۸ بیتونه (مقدمه او خاتمه) او د میاصاحب نور منظوم رسایل د

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدې چاپي خلاصي د متن وړاندې وروسته ورسره چاپ شوي دي. ددغو منظوماتو د بیتونو شمیره (۸۵۰) بیتونو ته رسیږي، او دا داسې منظومات دي، چې موضوعات یې له خلاصي سره نیغه اړیکه نه لري.

د خلاصي تر متن دمخه چې د میاصاحب ځینې نور منظومات راغلي دي، د بیتونو شمیره یې (۲۰۸) ده، او په هغو کې حمد، نعت، مناجات، د کتاب د تصنیف باعث، د چهاریار منقبت، د میاعمر (رح) خپله نسب نامه، د نقشبندیه طریقې سلسله او نور مطالب راغلي دي.

د خلاصي تر متن وروسته چې د میاصاحب کوم منظوم آثار راغلي دي، د هغو د بیتونو شمیر ۲۴۲ دی. په منظوماتو کې زیاتره د اسلامي تاریخ ځینې حکایات او روایات منظوم بیان شوي دي.

د میاصاحب دغه حکایتي ترجمې په پښتو ادب کې د قصصو او حکایاتو په تاریخ لیکنه کې د هیریدو نه دي.

**ج، شرح فقه الاکبر:**

فقه الاکبر یوه رساله ده، چې د علم کلام او عقایدو په خصوص کې بحثونه لري او رساله په عربي ژبه تألیف شوې ده. ددې رسالې د مؤلف په باب بیلابیل نظریات څرګند شوي دي، چا د یوه او چا د بل ګڼلې ده. استاد رشاد دغه نظریات ګرده

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوړي دي. پر دغه کتاب میاصاحب په پارسي ژبه یوه شرح لیکلې ده، چې خطي نسخه یې د تاشکند په یوه کتابخانه کې خوندي ده (۱۲).

**د، المعالی شرح الامالی:**

امالي یوه عربي قصیده ده، چې په **۵۲۹** هـ ق کال امام سراج الدین ابو محمد عبدالله علي بن عثمان الاوشي الفرغانوي (**۵۷۵** هـ ق مړ) نظم کړې ده او ټول بیتونه یې ۷۳ دي.

پردې قصیده ځینو پښتنو علماوو، لکه اخوند درویزه(رح)، عبدالرحمن زمینداوري او میاعمر (رح) په پښتو او پارسي شرحې لیکلې دي.

د میاصاحب شرح پارسي ده، او د اروانباد عبدالحلیم اثر په قول میاصاحب دغه شرح په ۱۱۵۸ هـ ق کال بشپړه کړې ده. نوموړي اثر د میاصاحب ددغې شرحې دوې خطي نسخې ښوولې دي.

**هـ، نسب نامه:**

دغه کتاب په ځینو ماخذو کې د پښتنو نسب نامې په نامه ښوول شوی، خو د حیات افغاني مؤلف بیا ویلي دي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

میاصاحب د ارمړو شجره په پښتو نظم ولي ده (۱۷) ددغه کتاب ځانګړی چاپي نسخه ما نه ده لیدلې.

**(۲) د میاعمر (رح) شمایل نبوی (ص):**

شمایل د شمیله عربي کلمې جمع ده، چې د شمایل کلمه مجازاً د شکل او قیافې په معنی هم راځي. (۱۷)

د اسلام د نازولي پیغمبر حضرت محمد (ص) د شمایلو زیات کتابونه په عربي، پارسي، اردو او نورو شرقي ژبو په نظم و نثر کښل شوي دي. پښتو هم یوه له دغو شرقي ژبو څخه ده چې د حضرت پیغمبر (ص) د شمایلو د بیان ډیر رسایل او کتب پکې لیکل شوي دي.

هغه پښتانه لیکوال چې پښتو شمایلنامې ترې پاتې دي دا دي:

اخوند درویزه ننګرهاری (رح) (۹۴۰ – ۱۰۲۸ هـ ق) اخوند احمد، سیدحسین، اخوند قاسم پاپیني، محمدګل کوهاټي، شیرمحمد هوتک (۱۰۹۲ – ۱۱۷۵ هـ ق) سکندرخان خټک (۱۰۸۲ – ۱۱۱۲ هـ ق) عبیدالله میاګل، امیر شاه، مستقیم، غلام نبي او میاعمر صاحب. ما ددغو شمایل نامو په باب یوه څیړنه د سکندرخان خټک د نظم کړې شمایلنامې په تعلیقاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی وړاندی کړی ده (۱۸) نو ځکه دلته یې یوازی یادونه لازمه وه.

د پښتو په لرغونو شمایلنامو کې یوه هم د میاعمر (رح) شمایلنامه ده، چې دا شمایلنامه تر اوسه نه ده چاپ شوې، یوه خطی نسخه یې د کابل پوهنتون په خطی کتابونو کی محفوظ ده (۱۹).

د میاصاحب د شمایلنامی دغه خطی متن د یوه خطی جونګ په ترځ کې خوندی دی، او ددې خطی نسخې ۹ مخه یې نیولی دي.

دا شمایلنامه منظومه ده او شکلی سکښت یې د غزلو او قصیده ډوله اوږدو غزلو دی. ټول بیتونه یې ۱۲۵ دی. (۲۱) دا شمایلنامه میاعمر (رح) په ۱۱۲۳ هـ ق کال په څمکنو کې پای ته رسولې ده، لکه چې ده ویلی دي:

په مقام د پیښور پـــــه څمکنو کی شمایل شـــه د طالب د زړګی نهال
زر و سل او دری شپیته د هجرت سن و چی را وخوت دا مذکور، لکه هلال

د میاصاحب د شمایلنامی ژبه درنه نه ده، خو نظمونه یې رسالیی نه لري، او د استاد رشاد تحقیق مطابق په دې نظمونو کې دوه وزنه سره ګډ شوی دي، څنګه چې موږ د میاصاحب د نظم کړې شمایلنامی یوازې همدا یوه نسخه په واک کې لرو، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه مونږ نه شو ویلای، چې دغه ګډوډۍ یوازې په همدې نسخه کې واقع دي، که نورې نسخې هم دا ډول ګډوډۍ لري. ددې کتاب دوې نورې نسخې اروابناد اثر په نخښنه کړې دي، چې د پښتونخوا په کتابخانو کې ساتلې کیږي.

څنګه چې مو دمخه اشاره وکړه، د میاصاحب دغه منظومه پښتو رساله تر اوسه نه ده چاپ شوې، نو مې لازمه وګڼله چې په دولسمه هجري پیړۍ کې د پښتنو ددغه ستر روحاني او علمي شخصیت دغه ناچاپه اثر چاپ ته آماده کړم. په همدې نیت مې په ۱۳۵۹ هـ ش کال کې دغه متن د کابل پوهنتون له نسخې څخه را نقل کړ او را سره پروت و، په ۱۳۶۷ هـ ش کال کې مې دا نقل له اصل سره بیا مقابله کړ او تر مقابلې وروسته مې پاکنویس کړ او لازم تصحیحات مې پکې داسې وکړل، چې د اصل بڼه مې یې په لمن لیکنو کې ښوولې ده. ددې متن د تصحیح روش قیاسي دی او دا په دې دلیل، چې د واحدې نا باوره خطي نسخې د موجودیت په صورت کې د متن محقق اړ دی چې له دغه روش څخه استفاده وکړي.

د متن د خطي نسخې نومرې مې د چاپ ته برابر شوي متن په ښي اړخ کې د دا ډول [ ] قوسونو تر منځ ښوولې دي، د بیتونو شمیر مې د متن کیڼ اړخ ته په همدې لوړ ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

قوسونو کی راوړی دی او د حاشیو نومرې په مسلسل ډول د دا ډول ( ) قوسونو تر منځ راغلې دي.

ما ددې متن په تصحیح او ددې مقدمی په کښلو کې تر یوه حده کار کړی دی، هیله لرم چې زما دا کار د میاصاحب ددغه اثر د چاپ او نشر په صورت کې د افغان دیندوست ملت په درد وخوری، او زموږ د زړومتونو لیوال محققان هم ځنی استفاده وکړي.

**ماخذونه:**

(۱) هیوادمل، زلمی، د پښتو آثارو د خطاطۍ عمده مرکزونه، ریاست فرهنګ، کابل، دولتی مطبعه **۱۳۶۴**، **۷۹** – **۸۰** مخونه.

(۲) رښتین، پوهاند صدیق الله، پښتو پیژندنه، پښتو څیړنی، پښتو ټولنه، کابل، دولتی مطبعه، **۱۳۵۲** هـ ش **۲۵** مخ.

(۳) بختانی، عبدالله، پښتانه شعراء څلورم ټوک، پښتو ټولنه، کابل، دولتی مطبعه، **۱۳۵۷** هـ ش **۲۹** – **۷۵** مخونه.

(۴) هیوادمل، زلمی، د متن څیړنی میتودولوژی، پښتو ټولنه، کابل، د ښوونی او روزنی مطبعه **۱۳۶۹** هـ ش ، **۱۱۴** مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۵) رشاد، پوهاند، عبدالشکور، د څمکنو میاعمر (رح) د افغانستان د علومو اکاډیمی، کابل دولتی مطبعه ۱۳۶۰ هـ ش، ۱۱ مخ.
(۶) اثر، عبدالحلیم، روحانی تړون او روحانی رابطه، پېښور، ۱۹۶۵ ع، ۷۵۹ - ۷۶۰ مخونه.
(۷) د څمکنو، میاعمر (رح) خزینة الاسرار، (خطی) د افغانستان د علومو اکادیمی خطی نسخه.
(۸) د څمکنو، میاعمر (رح) خلاصهٔ کیدانی معه دیگر رسایل مفیده، دهلی، فیض عام مطبعه ۱۲۹۸ هـ ق، ۲ - ۷ مخونه.
(۹) د څمکنو میاعمر (ح) ۱۴ مخ.
(۱۰) همدغه اثر، ۱۹ مخ
(۱۱) خلاصهٔ کیدانی ۱۱ مخ.
(۱۲) مسعودگل، مناقب میاعمر چمکنی، دهلی، مطبع فیض عام، ۱۲۹۹ هـ ق ۳ مخ.
(۱۳) د څمکنو میاعمر (رح) ۲۷ مخ.
(۱٤) شیدا، کاظم خان، د شیدا دیوان، د استاد بینوا په زیار، پښتو ټولنه، کابل، عمومی مطبعه، ۱۳۳۱ هـ ش، ۲۱۵ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۱۵) خلاصهٔ کیدانی، **۵** مخ.

(۱٦) محمد حیات خان، حیات افغانی، لاهور، **۱۸۲۷**ع، **۱۵۵-۱۵۴** مخونه.

(۱۷) د ثمکنو، میاعمر (رح) **۵۱** مخ.

(۱۸) هیوادمل، زلمی، د سکندر ختک د شمایل نامه او پندنامه، تعلیقات، پښتو ټولنه، کابل، **۱۳۲۴**هـ ش، **۴۱ – ۴۹** مخونه.

(۱۹) پهـوال، عبـدالرحمن او سـتوده، د پښـتو د **۱۰۸** قلمـی نسـخو فهرسـت، کابـل پوهنتـون **۱۳۵۴**هـ ش، د کابـل پوهنتون د کتابخانی **۸۴** نومره خطی کتاب.

(۲۰) ما د استاد رشاد د یوه یادښت له مخی په خپله یوه مقاله کې چې می، د میاعمر (رح) د شمایلنامی، پر خطی نسخه کښلی ده، دا ویلی دي، چی د میاصاحب د شمایلنامی بیتونه **۱۲۲** دی. (هیوادمل، زلمی، د ثمکنو میاعمر د پښتو خطی کتاب په باب څو ټکی، عرفان د **۱۳۲۹**هـ ش کال د قوس گڼه، **۴۰** مخ) خو په متن کی د شمایل نامې د بیتونو شمیر (**۱۲۵**) دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# متن

بسم الله الرحمن الرحيم

[۱] اَللّٰهُم صَلِّ وَسَلِمْ وَ بَارِکْ وَ اَنْعِمْ وَ اَرْحِمْ وَاکْرِمْ عَلٰی سَیّدِنَا وَ مَوْلاَنَا وَ شَفِیْعِنا مُحَمّدٍ سَیّدِ الْعَالَمِیْنَ وَ سَیّدِ الْاَنْبِیَاءِ وَالْمُرْسَلِیْنَ وَ سَیّدِ الْمَلاَئِکَةِ الْمُقَرّبِیْنَ وَ عَلٰی اٰلِهِ وَ اَهْلِ بَیْتِهِ * اَجْمَعِیْنَ دَائِماً اَبَداً عَدَدَ مَاعَلِمْتَ وَاملاءَ مَا عَلِمْتَ تَکُوْنَ وَ زِیْنَةَ مَاعَلِمْتَ بِعَدَدِ الاَنْفَاسِ الْخَلاَئِقْ وَ التّسْبِیْحِ الْمَلاَیِکْ وَ ذَرءِتِ الْمَوْجُوْدَاتِ اَجْمَعِیْنَ، کَمَا یُحِبُّ رَبُّنَا وَ یَرْضَی یَکُوْنُ لَکَ رِضَاءً وَ لِحَقِّهِ اَدَاءً وَ فِی الدّارَیْنِ لَنَا صَلاَحاً وَ فَلاَحاً وَ نَجاتاً مِنَ النّارِ وَ مِنْ شَرِّالاَشْرَارِ وَ ضَرِّالاَضْرَارِ وَ جُنُوْدِ الْکُفّارِ وَارْزُقْنَا مِنْ عِنْدِکَ ضِیاً وَ نُوراً فِی دَارِ الْقَرَارِ بِرَحْمَتِکَ یَا اَرْحَمَ الرّاحِمِیْنَ.

(درود شریف)*

تل ثنا د هغه پاک پروردګار

---

*آآ: آلهِ و اصحابه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ممکن یې له نابوده کړ اظهار
بیا یې غوره په عالم کې پاک رسول کړ
هم یې موږ** دده امت کړو ایماندار
او درود دی پاک الله پرده ویلی
بیایې موږ (ه هم) مامور کړو پر دا کار(۵۵)

[۲] دغه پسه شمایل د پاک رسول دي
چې لوستونی (۵۲) منور شي په انوار
شمایل په لوست وعده د بهشت شوې
ځکه هر څوک یې د لوستو طلبګار

د الله ثنا بې حده ***
بنده وایه (۳) بې عدده
دا ثنایی ازلی ده
له ازله تر ابده

---

**آ۱: مونږ
( ۵۵ ) اصل: بیا یې موږ پر مامور کړو ؛ آ۲: بیا ئ موږه پر مامور کړو پدا کار؛ آ۱: بیائ مونږ پر مامور کړو پدا کار
( ۵۲ ) لوستونی: لوستونی یې ؛ آ۲: چه لوستونی منور په انوار
***آ نسخه له دې ځایه پیلیږي.
(۳) اصل: وایی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او درود پر * پاک رسول
رحمت راغی ** له احده
نن ورځ *** وار دی مومنانو
درود وایئ بی عدده
چی درود پر * پاک رسول په مینه وایي
دغه لویه وسیله ده

## فصل**

بیا * د الله ثنا تل وایه ** اې امته
چی (۴) پیدا کړه رسولان آدم صورته
همه * واړو سر حلقه یې پاک رسول کړ

---

* آ: په
** آ، آ۱، آ۲،: راغلے
*** آ: نن هم
* آ: په
** په آ نسخه کی فصل نشته، آ، آ۲ دواړه د فصل عنوان لري
* آ۲، آ۱، آ: او بیا ** پ: وایی؛ دا دوه مسرۍ په آ۱ نسخه کی خوړل شوې دي. وروستۍ مسرۍ چا په بل قلم لیکلی ده: چی پیدا کړی رسولان آدم صورته
(۴) چې = چی یې؛ پ: چی یې
* آ، آ۱، آ۲، پ: د همه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا یی موږ دده حساب کړو له امته
له صفته یې عاجز سړي، پیري شوو
که هر څو یې وصف کا* په څو لغته
ولې لږ بیان یې دا دی اې طالبه
مومن* زړه به پرې قوی شی پر همته
پاک رسول نوری بشر* مقبول د خدای وه
بی نظیره عالیشانه، تمام پُر له برکته (۵)
آدم زاد څه، کائنات کې* مثل نشته
که هر څو کائنات دي عالي فطرته
د صورت بشري سایه یی نه وه اې طالبه (۶)
سرتر پایه نوری (۷) تن، نوری سیرته

*آ۱، آ: که
*آ۱: د مومن زړه
*آ۲: بشره
(۵) اصل، پ: بی نظیره تعالی شانه سر تر پای تمام پرله برکته.
*کې: کې یې
(۶) پ: د صورت مبارک یی بشری سایه یې نه وه ای طالبه؛
آ : د صورت مبارک بشری سایۀ نوه ابطالب
(۷) آ۲: سرتر پایه مبارک تن

(c) ketabton.com: The Digital Library

مچ پرې نه کښيناست هيچرې اې مومنه
مچ اکثر وي آلوده او پر چرکته
[۳] معجزات يې عجايب او لوی لوی وو
کل کارونه يې واړه وو له حکمته (۸)
چې يې ونی رابللې، په قدرت د پاک الله وله راغللی (۹)
دوی به ولوښتی(۱۰) بی درنګه بی محنته
لويو غرونو مخ* ځرګند کړ چی زرکيږو و خدمت ته
زرکيده يې په قدرت د پاک الله حاصل بی درنګه بی کلفته
التفات يې ورته نه کاوه هيچيرې
وه په ذات کی يګانه بلند همته
مياشت له شوقه دوه نيمه وله** راغله
چې يی وکړ پرې نظر له اشارته
و، مقبول په دواړه کونه*** کی طالبه

(۸) آ۲، آ۱، آ، پ: کل کارون ئ واړه پرلبرکت
(۹) اصل: چی يې ونی را بللی وې عاجزې په قدرت د پاک الله وله راغلې؛ پ، آ: ولره راغلې
(۱۰) له بيخه نړيدل.
* آ: مخ ورته ځرګند کړ
** آ۲، پ: ولره
*** آ، آ۱، آ۲: وه مقبول په دواړه کونُ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیکبختان یې بیرون نه وه *
کافران چې له خدمته یې بیرون شوه*
شرمنده شوه * په دوه کونه هزیمته
چې پیروان * د پاک رسول نه شی طالبه
هغه کسان واړه محروم له شفاعته *
په اول یې پیروي په خاص توحید ده
مشرک ځکه بی نصیب شه له رحمته
مَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِی لَمْ یَنَلْ شَفَاعَتِی (۱۱) ظاهر دلیل دی
دا حدیث صحیح راغلی له حضرته
له سنت مراد تمام شریعت دی
دا معنی کړه ښه معلومه له لغته
امر و نهی پاک رسول له خدایه راوړه (۱۲)
پاک رسول زموږ پیشوا دی

---

*آ۱، آ۲، آ: وو

*آ۱: شوو

*آ۲: شرمنده شوو

*آ۱، آ۲، آ: پسروان

*آ نسخه دلته ناقصه ده

(۱۱) ځوک چې زما له سنتو سرغړاونه وکي، بیا به نه مومي زما شفاعت

(۱۲) آ۱، آ۲، پ: امر نهی پاک رسول له خدای راوړ تعالی شانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاص و عام و ته ارشاد کاله رحمته (۱۳)
مفصل می شمایل په پښتو راوړه (۱۴)
عربی و فارسی وه شرین لغته

## فصل

پاک رسول نوری جمال نوری بشر
خدای پیدا کړ منور
د صورت سایه یې نه وه (۱۵)
نور یې زیات تر شمس قمر
[۴] دولس لکه دیارلس زره
تیر سو (۱۶) دیرش وینښته یی د سر
او شپږ لکه څو نسو (۱۷) دو اویا حساب په پاکه ږیره
اختلاف د روایاتو دلته شته دا مختصر (۱۸)
په حساب کی د وینښتو کمی، زیاتی احتیاط دادی

(۱۳) آ۱: که له رحمته
(۱۴) آ۱: راوړ
(۱۵) آ۲، پ: د صورت مبارکی بشری سایه یی نه وه
(۱۶) تیر سو: دری سوه ؛ آ۲، پ: وینښته یی وو د مبارک سر
(۱۷) څو نسو: خلور سوه ؛ آ۲، پ: پر پاکه؛ آ۱، آ۲: ګیره
(۱۸) اصل، پ: که اختلاف د روایاتو دا له شته دا مختصر ؛ آ۱، آ۲: که اختلاف د روایتو دا له

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې تعین پکې رانه شي په شمر
خلاصه، حاصل يې دا چې په سینه يې *د ویښتو وه نرۍ لیکه
لکه ښکلې الف سم وي په دفتر
عربي و په فارسي کې مونده کیږي
دا مذکور يې د ویښتو *شته مقرر
شمایل نبوي کې سپین ویښته یې دي شمیرلي
سپین ویښته يې تر شل کم وایي په شمر
دري شپیته کاله يې عمر* بې معراجه
روایت دا هسې شته دي معتبر
چې اتلس کاله شپه وه مومنانو
*غه ژوندون يې په قدرت د جان پرور
قوت (۱۹) بې شوق او محبت د کردګارو*
غیر ګمان چیرې ونه کانې ابتر

---

* آ۲ به سینه یی مبارک
* آ نسخه تر دې ځایه ناقصه ده؛ آ۲، پ: دا مذکوریی د ویښتو یی مبارک شته مقرر
* پ، آ۲ : عمر مبارک
* آ : هغه ژوندون پقدرت؛ آ۲ ، پ: ژوندون مبارک.
(۱۹) قوت: شومه
* آ۲، پ: د ذوالجلال و

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملایک بی طُعمې * ژوي عجب نه کړي
د الله * تحقیق د رزق کړي بی خبر [۲۰]
دا احوال یوه معجزه له معجزاتو
د مومن ایمان راوړه دي پرې هنر
پاک رسول کمالات تر عقل لوړ عطا د خدای ده[۲۱]
ته به څه شکل همګی راوړې په شمر
شمایل لوسته د زړه په فکر بویه
چی د زړه په فکر یې لوست دی ډیر هنر [۲۲]
چی په ژبه یی بیان په زړه دلیل وي
هغه لوست یې په تحقیق دی پر اثر *

---

* آ۲: طلمی

* ا، آ۱، آ۲: دا له

(۲۰) اصل: او د الله تحقیق؛ پ: او دا له تحقیق

(۲۱) اصل: د خدای ده جل جلا له ؛ آ: د خدای دي جل جلا له ؛ پ ، آ۱، آ۲: پاک رسول کمالات کل تر عقل بر عطا د خدای د جل جلا له؛ آ۲: خدای جل جلا له، (د ) نه لري.

(۲۲) اصل: چی د زړه په فکر یی لوسته یی دی هنر؛ پ: چی د زړه په فکر یی لوست وی دی بهتر؛ آ: چی د زړه په فکر لوسته دی بهتر؛ آ۱: چی د زړه په فکری لوست یی ډیر هنر

* له دې نیم بیتي لوړ درې نور نیم بیتي او دا نیم بیتی ټول په آ۲ نسخه کې یو ځای دا سې راغلي دي: شمایل لوسته ئ دي بهتر چې پژبه یې بیان پزړه دلیل وي هغه لوست یې په تحقیق دی پر اثر

(c) ketabton.com: The Digital Library

د معنی ملاحظه بویه طالبانو
چی محکم* پرې یقین شي محکم تر
په دلیل سری (۲۳) یو ځل لوسته په کار دي
غه، *یو ځل دی، تر هزار ځله بهتر

## فصل*

پاک رسول نوری جمال وه
پیدا کړی ذوالجلال وه
[۵] وه پیدا د خدای له نوره
ځکه بی* نقصه کمال وه
که ګمان د اتحاد کړې
دا ګمان دې لوی وبال* وه
هغه نور محمدی د خدای مخلوق
تر کل مخلوق مقدم پیدا کړی ذوالجلال وه*

---

*آ: محکم وم؛ آ۱، آ۲: محکم هم
(۲۳) سری: سره یی؛ آ، پ: سره
*آ۲: هغه
*په آ نسخه کی د فصل عنوان نشته
*آ۲: یی
*آ: اوبال

(c) ketabton.com: The Digital Library

اَوّلُ مَا خَلَقَ اللّٰهُ تعالی نُورُیِ[۲۴] لوی دلیل دی
دا حدیث ستا* د مقصود په شبه دال وه
ذات صفات د حق شریک له هیچا نه دی
چی گمان د شرک کا اهل ضلال وه*
نبي و* د خدای له نوره
سرې و* له برکته
غوره کړی ذوالجلال وه
دواړه شونډې یی تسبیح* وې
مسبح[۲۵] د ذوالجلال وه
ژبی[۲۶] وه د خدای له ذکره منوره
چی گویا په حق مقال وه

---

*آ، آ۱، آ۲: هغه نوری محمدی صلی الله وسلم و اله د خدای مخلوق ته (آ۱، آ۲: تر) کل مخلوق مقدم ی (آ۱، آ۲: ی ته لري) پیدا کړی ذوالجلال وه

[۲۴] لومړنی شی چی خدای پیدا کړی و، هغه زما نور دی.

*آ۱، آ۲: دا حدیث ستا د مقصود

*آ۱، آ۲، آ: چی گمان د شرکت کا اهل ضلال وه

*آ۱، آ۲، آ: وه

*آ: سری وه لبرکت

*آ۱: په تسبیح وې؛ آ۲: شونډې مبارکی

[۲۵] مسبح: خدای تعالی په پاکی یادوونکی.

[۲۶] ژبی: ژبه یی؛ آ۲: مبارکه ژبه یی وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوری غابښ او لوړه پوزه
مښک عنبر* ، غه د بهښت یی کله* سیال وه
زړه* یې پرله صدقه له اخلاصه
درست له رحمه مالامال وه
دواړه غوږې (۲۷) یې وو ، و پند* و عبرت ته
چی د وحی منتظر په خاص کرم د ذوالجلال وه
دواړه سترګی یې پر حیاوې
چې حق بین او با کمال وه
دواړه لاس* یې سر په سخاوو
چی په ورکړه په عالم کی بی مثال وه
حُلق* شیرین یې بهترین وه د بهښت له هغو شهدو
کل امت* له شفقت یی مالا مال وه

* آ: عنبری
* آ۲: کا سیال
* پ، آ۲: مبارک زړه
(۲۷) غوږې: غوږه یې
* آ: د پند و ده عبرت ؛ آ۲: دواړه غوږی مبارک وو و پند و عبرت ته ؛ پ: دواړه غوږی مبارک وو پند او و عبرت ته
* آ۲ ، پ: دواړه لاس یی مبارک پر سخا وو
* اصل: حلق

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا یي وه بهتره د بهښت له دُر جوهرو
چی ترلې په طاعت وه چی حکمت او برکت پکی کمال وه*
د بهښت تر سرو یاقوتو یی سینه* وه خوش نمایه
په خوبی درخشان تر لال وه
نوس *یی وه پُر حلم
چی قرآن پرې باندې دال وه
قوله تعالی : "و اِنکَ لَعَلَی خُلُقٍ عَظِیم" (۲۸) که ته لولې (۲۹)
دا جواب ستا د ،غه سوال وه
مبارک بطن یې صابرو ، له جمیع صابرانو
چی په صبر لکه بحر مالامال وه
هم ویښته یې بهترین وه ، د بهښت له هغو پاکو ګیاهونو
چی پیدا د حق په فضل بی و بال وه
[۲] هم هډونه مبارک یې بهترین وو د بهښت له غو کافورو

*آ۲: کل امت یی
*پ، آ، آ۱، آ۲ : چی ترلې په طاعت وه چی حکمت او برکت معنوي پکې کمال وه
* په ستورو نخښنه شوي کلمات په مقابله شوو نسخو: پ، آ، آ۱، آ۲ کې د مبارک کلمه هم لري.
*نوس یی مبارک وه پر حلم
(۲۸) بې شکه چی ته د عالی اخلاقو څښتن یی
(۲۹) آ، آ۲: که ولولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې بیان یې زما ستا کله مجال وه
دواړې پښې* یې د باري خدای په عبادت وې
چې ملک یې په طاعت کې کله سیال وه
پاک رسول قبول مقبول[۳۰] د خدای تعالی وه
تعالی شانه د صورت معنی یې څکه په کمال وه[۳۱]

## فصل

د حضرت رسول جمال
خدای پیدا کړ با کمال
په جمیع عالم کې غوره
پیدا کړی ذوالجلال
پاک رسول محبوب دخدای وه تعالی شانه
له محبوبه سیالی څوک کا د کمال
چې پیروشي[۳۲] د محبوب هغه مقبول شي
قوله تعالی:

* پ، آ، آ۱، آ۲: دواړې پښې مبارکې
(۳۰) آ۱، آ۲: پاک رسول بیشک، قبول، مقبول محبوب د خدای تعالی وه
(۳۱) آ۲: تعالی شانه د صورت په معنی څکه په کمال وه.
(۳۲) آ: پسرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿فَاتَّبِعُونِی یُحْبِبْکُمُ اللهُ﴾ (۳۳)اخبار کوی له دي احوال
او عالم آدم هنوز چی پیدا نه وو
پاک الله وه پیدا کړی
ډیر پخوا زموږ * پیشوا حضرت رسول صاحب کمال
لیکن وقت یې د ظهور راغلی نه وه
د رب کړه دي په حکمت واړه کمال
نه هیڅوک دده په رنګ وو
دا لا څه د چا مجال
نه چی دی ** د چا په رنګ وه
چی یی ووایم مثال
تن * یی سپین تر سپینو زرو
نوري تن * آدم جمال
ګندم ګون و ته مایل وه *

(۳۳) نو تاسی زما متابعت وکړئ چی د خدای د دوستۍ وړ شئ
* آ۱: څمونږ
** پ، آ۲: او نه دی د چا
* آ۲: مبارک تن
* پ، آ۲: نوري تن یې مبارک
* آ: کی هم شته وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پُرله نوره مالامال
تل له شوقه ګونه زیږه
پُرله شوقه تل خوشحال
نری ګډې وډې وروځی
خم ابروی لکه هلال
فراخ وچولی درخشان وه
نمر تر* ې کم دی په مثال
هم یې توره* ګرده ږیره
خوشنمای (۳۴)تر خط او خال
دوه یې توری غټې سترګې
پر حیا زیب د جمال
توربانه یې د راز نمای (۳۵)
ووه له حسنه (۳۶) مالا مال
پاکه خوله یې زیب نمایه

*آ: تر
*آ هم توره
(۳۴) آ۲: خوشنمایه
(۳۵) آ، آ۱: نمایه ، آ۲: دراز نمای وو
(۳۶) آ۲، تل له حسنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحمت باب[۳۷] د ذوالجلال
غابښ * يې سپين ترمرغلرو
ځي[۳۸] در وښيم مثال
پُرله نوره ځبله لري
خوش نمايه[۳۹] خوش جمال
دواړه لاس يې رسيده تر زنګنونو
ووه پيدا پُرله خوبيو[۴۰] با کمال
هم يې ګوتو سر نري (وو) مومنانو *
مونده نه شي آدم زاد په دا مثال
هم يې قد * ميانه بالا وه اې مومنه
کله شته، د آدم زاد هسې جمال
هم صادق په کل ګفتار او په کردار کې

---

(۳۷) آ: ياب
* په ستورو په نخښه شوي کلمات په پ، آ١ ، آ٢ نسخو کې څنګ ته د (مبارک) کلمه لري. خو په اصل او آ نسخه کې د مبارک کلمه نشته.
(۳۸) ځی: څه يی
(۳۹) آ، آ١، آ٢ ، پ: خوب نمای
(۴۰) آ١ ، آ٢: خوبې
* آ٢، پ: هم يې ګوتی مبارکی سر نری، وې مومنانو ؛ آ: هم ی کوتی سرنری و
* پ: قد مبارک

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو ، خلک يې په تعظيم په استقبال

## فصل

هم ؤ، ختم د نبيانو بې خلافه
په دا حال صحيح قرآن پرې باندې دال
قوله تعالى:
محمدٌ اَبَا اَحَدٍ مِنْ رِجَالِكُمْ وَلَكِنْ رَّسُوْلَ اللهِ وَ خَاتَمَ النَّبِيِّنَ [۴۱]
که ته ولولى:
ته به هله شې آګاه په دا احوال
ختم هسې رنګه لويه مرتبه ده اې مومنه
تر دا زيات نشته د هيڅ مخلوق کمال
تر قيامته پس له ختمه نبي نشته
هم دى ختم المرسلين په کل کمال
بيا په قرب د الله تر ختم فوق مرتبه نشته
د نبيانو د ملکو* پاک الله ور عطا کړى دا کمال
معجزات يې عجايب ووې مومنه

---

[۴۱] محمد ، ستاسى د يوه پلار هم نه دى، مګر د خداى استازى او د نبيانو خاتم دى.
*آ۱ ، ا۲: ملک

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوک بې [۴۲] وکاندي سيالی يی د کمال
چی معراج هم وه يو جز د معجزاتو [۴۳]
اوس په دا نظر [۴۴] وګوره کل احوال
کل نبيان وه طفيلی له پاکه رويه
له لولاکه [۴۵] ښه مفهوم کړه دا احوال
چی درود پری پاک الله ملايک [۴۶] وايی
تر دا زيات نشته د هيڅ مخلوق کمال
په قيامت له پاکه رويه به يی خلاص شی [۴۷] عاميان واړه
شفاعت ور عطا [۴۸] کړی ذوالجلال
دا يی لويه معجزه ده [۴۹] بی نظيره
چی ځرګند وه په ټولو کی د رحال [۵۰]

---

(۴۲) بې : به يې
(۴۳) آ ، آ۲ ، پ: له معجزاتو
(۴۴) آ ، آ۲ ، پ: نظير
(۴۵) آ : لولاک ښه
(۴۶) آ ، آ۲ ، پ: او ملايک
(۴۷) آ ، آ۲ ، پ: به يی خلاصيږی عاميان واړه ، آ: به ی خلاصيږی عاميان
(۴۸) آ ، آ۲: ورعطا
(۴۹) آ ، آ۲ ، پ: وه
(۵۰) اصل: د رجال

(c) ketabton.com: The Digital Library

کل دوستان یی په ښادي په دواړه کونه
کل دښمن یې زیر زبر شه پایمال
شمایل په لوست وعده د بهښت شوې
چی قاری یی دی دوست دار د ذوالجلال
نن هم* وار دی مومنانو صرفه مه کړئ
دا هم لویه وسیله ده بر کمال*
که هم* چیرې وی حاجت په دواړه کونه
درمانده شوې* بی طاقته بی مجال
وسیله و پاک الله ته شمایل کړې
هم دده په روی به وغواړې نیک احوال
او که هم* چیرې وي حاجت په دواړو کونو*
په نه ځله وظیفه د شمایل په صدق لولی
غه*حاجت په در عطا کا ذوالجلال

---

*آ: نن وم
*آ۲ ، پ: په کمال ، آ: با کمال
*آ: که وم
*آ۲: درمانده شے
*آ: که وم چیرې
*آ۲، آ۱ ، آ: د دواړو
*آ۲ ، آ: هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګناه په بد افعال وظیفه مه کړه
ته به نه شی پرې سودمند په بد افعال
لوی ضرر به آخر درته در پیښ کا *
ته به شی په بد افعال اهل ضلال
دا یو سِرو * له اسرارو می ظاهر کړ
بیا به مومې دواړه کونه په کمال
صادقان به شمایل په صدق لولي
چی ایمان یی سلامت شی له زوال
نیکبختان به یی د خدای دپاره لولي
په عقبی به عشرت کاندی * په کمال
"محمد عمر" بن ابراهیم سرِبنی شمایل راوړ په پښتو ژبه (۵۱)
طالبان به یی په لوستو * شی خوشحال

---

* آ: لوی ضرر به آخر درته پیښ که
* آ۲، آ: وه
* آ، پ: عشرت کاندی په کمال؛ آ۲: په عشرت کاندی په کمال؛ آ۱: به عشرت کاندی په کمال،
په اصل کې: عشرت په کمال. د (کاندی) کلمه پاتې ده ؛ په پ: آ، آ۱، آ۲ نسخو کی کاندي شته؛ ددې نسخو له مخې کاندی په اصل کې ورزیات شو.
(۵۱) آ۲، پ، اصل: محمد عمر بن ابراهیم اسرائیلی سرِبنی ، آ: محمد عمر بن ابراهیم
* آ: لوسته، آ۲: لوست
* آ: لوسته، آ۲: لوست

(c) ketabton.com: The Digital Library

موسی، عیسی می مادري پدری ورونه
شمایل و پښتو ژبی ته راغب د دین په حال [۵۲]
دا توښه زموږ دوارو مومنانو
شمایل صحیح عمل بی قیل وقال
په مقام د پشاور په خمکنو کی
شمایل شه د طالب د زړګی نهال
زر او سل او دری شپیته د هجرت سن وه
چی راوخوت دا مذکور، لکه هلال

[۹] شمایل نبوی صلی الله تعالی علیه و علی اله و اصحابه و اتباعه وسلم تصنیف حضرت غوث زمان میا صاحب چی مشهور او معروف په خمکنو سره دی.

هر که بخواند کاتب را بدعا خیر یاد کند، خدایش خیر کند.

[۵۲] پ: شمایل و پښتو ژبی ته راغب وو ددین په حال؛ آ: په شمایل وه پوښتو ژب ته راغب دین په حال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سر خبرې

د میا عمر څمکنی(رح) (۱۰۸۰ – ۱۱۹۰ هـ ق) د شمایل نبوي(ص) متن ما د کابل پوهنتون د کتابخانې له خطی نسخې په **۱۳۵۹** هـ ش کال نقل کړی و، په ۱۳۶۹ هـ ش کال مې پردې نسخه یوه مقاله ولیکله چې پر هماغه کال په عرفان مجله کې چاپ شوه.

تر دې وروسته مې غوښتل چې د متن د چاپ لپاره له چا سره خبرې وکړم. پدې کې د دوکتور نجیب الله حکومت سقوط شو، د تنظیمي جګړو له امله موږ پېښور ته کډه وکړه، له ښه تصادفه ما د شمایل نبوی(ص) متن او مقدمه هم له ځانه سره وړي وو.

د پېښور د استوګنې په اول کال زموږ فرهنګی مشر همیش خلیل را څخه پوښتنه وکړه چې د چاپ لپاره تیار څه لرې؟ ما ورته په ځواب کې وویل چې په کاغذونو کې مې د څوکنو د میاعمرصاحب د شمایل نبوی(ص) تیار کړی متن له مقدمې سره راسره موجود دی چې که زمینه وي کیدای شي چاپ یې کړو، خو مخکې تر دې چې د چاپ په لټه کې شم زما له تاسې څخه دا غوښتنه ده چې تاسې هم څه پرې ولیکئ.

همیش صاحب په مهربانۍ زما غوښتنه ومنله، خپل کار (متن - مقدمه) مې وروسپارل، او اوږد لیکنه یې پر وکړ، زما په مقدمه کې راغلي معلومات یې غنی کړل او له ځینو خبرو سره یې خپله اختلاف هم څرګند کړ. د دوی تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکنې وروسته ما داسې انګیرله چې ګوندې زما کار د چاپ لپاره آماده دی، نیت مې دا و چې یونیورستی بک ایجنسي خاوند انعام الله جان ته یې د چاپ لپاره ورکړم.

د پېښور د استوګنې پر مهال ما هره ورځ یو ساعت دوه ساعته ددې سیمې د اکادمیکو مراکزو په کتابخانو کې مطالعه کوله. یوه ورځ مې د پېښور پوهنتون د پښتو اکادمی په کتابخانه کې د رفیع صاحب له خوا جوړ شوی د پښتو اکادمی د کتابخانې د خطي او چاپي نوادرو فهرست کوت، یو ځای د میا عمر د شمایل نبوي نوم مخې ته راغی نو په هماغه ساعت د خپل کار له چاپه منصرف شوم، ځکه زما حدس و چې، لکه د پښتو اکادمی، ښایي د پېښور په نورو کتابخانو کې نورې نسخې وي چې زما له تهیه کړی متن سره یې مقابله ضرور ښکاري.

زما حدس سم و، کله چې مې د پېښور په ملی آرشیف کې مطالعه کوله نو هلته هم د میا صاحب د شمایل نبوی درې نسخې را پیدا شوې. پدې ترتیب په پېښور کې ما د شمایل څلور نورې نسخې وموندې، دا څلور سره نسخې مې د خپل تهیه کړي متن سره مقابله کړې او دا مقابله شوې پاڼې را سره وې، کلونه پرې تیر شول. کله چې پوهنوال یون ددې رسالې د چاپ آماده ګي ظاهره کړه، نومې دا پاڼې له دوسیې را وایستې او له ځان سره مې فیصله وکړه چې پر متن ما لیکلې مقدمه په هماغسې پرې چاپوم، څنګه چې مې په ۱۳۷۰ هـ ش کال پرې لیکلې وه، خو نور کارونه چې مې په پېښور کې پر دې رساله کړي، د هغو توضیح ته ضرورت و، ددې توضیحاتو مناسب ځای د سرخبرې وې چې زه اوس خپلی اضافی خبرې دلته راوړم:

**(۱) له نورو نسخو سره مقابله:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګه چې مې دمخه وویل دا متن د کابل پوهنتون له نسخې په ۱۳۵۹ هـ ش کال کې نقل او بیا تهیه شو. د پېښور په کتابخانو کې د مطالعې په دوران کې له لاندې څلورو نسخو سره مقابله شوې دی د څلورو سره نسخو اختلافی موارد په حاشیو کې راغلی دي، نسخې دا دي:

**الف، د پېښور پښتو اکاډمي نسخه:**

دا نسخه لس پاڼې لري، د محمدی صاحبزاده (۱۲۲۰ هـ ق مړ) په امر و هدایت لیکل شوې ده، د لیکلو کال یې ۱۱۹۴ هـ ق کال ښوول شوی دی، ما یې اختصاري علامه (پ) ټاکلې ده، ددې نسخې اختلافی موارد د (پ) پراګرافیم په نخښه شوي دي.

**ب، د پېښور ملی آرشیف نسخې:**

**لومړی نسخه**: دا نسخه ټولې ۹ پاڼې لري او د یوې مجموعې په ترڅ کې راغلې ده. دا نسخه هم د محمدي صاحبزاده په هدایت لیکل شوې. اختصاري نخښه یې (آ) ده. د لیکلو تاریخ یې نه دی لیکلی.

**دویمه نسخه:**

دا نسخه ۹ پاڼې لري، په ۱۱۹۲ هـ ق کال د محمدی صاحبزاده لپاره لیکل شوې ده، نسخه په یوه مجموعه کې راغلی ده. دا نسخه ما د (آ۱) په علامه نخښه ده.

**دریمه نسخه:**

دا نسخه ۱۰ پاڼې لري، نور محمد نومی په ۱۱۹۴ هـ ق د عالیګۍ په کلی کې لیکلې ده، کاتب نور محمد خپل پلار نوم ګل محمد لیکلی دی. ددې نسخې اختصاري علامه (آ۲) ده.

**(۲) د تصحیح روش:**

څنګه د تصحیح روش د متن د خطي نسخو کیفیت، کیمیت او څرنګوالی ټاکي، نو څکه کله چې ما متن لومړی ځل د کابل د واحدې نسخې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مخې آماده کړی و، نو ځکه مې يې د تصحيح روش قياسي ښوولې و، خو کله چې ما د پېښور په کتابخانو کې څلور نورې نسخې وليدې او دا څلور نسخې مې له خپل متن سره مقابلې کړې، نو د تصحيح دا روش راته التقاطي نه، بلکه انتقادي ښکاري، ځکه اصل او څلور سره ورسره مقابله شوې نسخې کابو سره يو شی دي، دغسې اختلافات چې د متن مفهوم ته ضرر ورسوي، په پنځو سر نسخو کې نشته او د نسخو اختلافات يې زياتره املايي او ليکدودي دي. ما د نسخو اختلافات د متن په حاشيو کې راوړي دي، کوم ځای چې د اصل خط سم نه دی راښکاره شوی، د اصل ضبط مې حاشيې ته راوړی دی او متن مې د نورو نسخو د ضبط له مخې سم کړی دی.

**(۳) سريزې په ارتباط**:

ما په سريزه کې د افغانستان له پاچهانو څخه يوازې لوی احمد شاه بابا د ميا عمر (رح) له مريدانو او اراداتمندانو کې ياد کړی و. (سريزه، ۷ مخ)

دوکتور محمد حنيف د **Ph.D** په ډيزرټيشن کښلی دي چې تيمور شاه دراني (۱۱۸۶ – ۱۲۰۷هـ ق) هم د ځمکنو له خانقا سره منسلک و، تيمور شاه چې کله پاچا شو نو له څلورو زرو درباريانو او فوج سره د ميا صاحب سلام ته راغی. د دادين په مناقب مياعمر کې راغلي دي:

دا ارشاد وکړ صاحب چې اې ملوکه
پوخ کړه دا قدر طعام له ښه سلوکه
چې سبا راځی فقير ته پر زيارت
نو نهال هسی د باغ د سلطنت
دعا ګوی به په کامګار برخوردار باندې
خوا سره کړې چې يې ووينې د وړاندې
دا په دا چې دی فرزند د احمد شاه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر پرې خوښ یم مخامخ که پس شا دی

(حیات، آثار میا عمر چمکنی، ص ۷ . ۴)

(۴) **پښتو نورې شمایل نامې**:

استاد رشاد لیکلی دي چې ما ته د پښتو لس شمایل نامې معلومې دي (دڅمکنو میا عمر(رح) ۲۵ مخ) مګر د رسالې د همدغه مخ په حاشیه کې چې کوم نومونه راغلي د میا صاحب په ګډون ترې نه تنه جوړېږي، خو استاد په دغو نومونو کې د عبدل محمد ترین نوم هم یاد کړی دی چې د آخوند درویزه د شمایل رساله یې په اردو نظم اړولی ده. که به استاد دا نوم هم په دې لسو نومونو کې ښوولی وی، زما فکر د عبدل محمد ترین شمایلنامه خو پښتو، نه، بلکه په اردو ده.

ما د سکندر خان ختک د شمایل نامې په تعلیقاتو چې کومې پښتو شمایلنامې ښوولې دي د - میا صاحب د شمایل نبوي په شمول- یې شیمره ۱۲ ده.

(شمایلنامه او پندنامه، ۴۳ – ۴۹ مخونه)

ما ددې حاضرې رسالې په مقدمه (۱۲ – ۱۳ مخونه) کې د همدا دولسو تنو شمایل نامې ښوولې دي، خو کله چې اوس ما دا متن بیا چاپ ته سره ترتیباوه، نو په دې ارتباط په دغو لاندې نویو موادو پیښ سوم:

(۱) د شمایل نبوي بله رساله د پښتو مربعاتو په کالب کې د میا عمر صاحب مرید نور محمد په ۱۱۸۰ هـ ق نظم کړې ده چې خطي نسخه یې (۲ پاڼې) د پېښور ملی آرشیف په خطي مجموعه کې خوندي ده. دا خطي نسخه د ناظم نور محمد زوی هدا محمد په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خط ده. ددې شمایل نبوی ناظم نور محمد د نورالبیان په نامه د میاعمرصاحب مناقب، داسمأ الحسن رساله او د قصیدهٔ برده پښتو ترجمه هم لري.

(۲) مفتی عبدالحنان (۱۳۲۳ هـ ش مړ) د زیارتي په یوه اوږده قصصي چاربیته کې د حضرت محمد(ص) شمایل راوړي دي. دا شمایل نامه د لغمان مشهور هنرمند مرحوم ګل محمد (ګلکی) په آواز ثبت له ماسره شته.

(۳) د حضرت محمد(ص) د شمایلو قدیم کتاب په عربی ژبه امام ابو عیسی محمد بن عیسی بن سوره الترمذی را ټول کړی دی او په شمایل ترمذی مشهور دی.

د شمایل ترمذی دوې برخې عبدالجلیل افغانی په پښتو نثر ترجمه کړې دی. دا ترجمه د (شمایل ترمذي خصایل نبوی(ص)) تر نامه لاندې له عربی متن سره یوځای، لومړی حصه ۱۲۹ مخه، دویمه حصه ۱۳۲ مخه = ۳۰۵ مخه په یوه وقایه کې د یونیورستی بک ایجنسي له خوا چاپ شوی ده.

**(۵) د میا عمر د شمایل نبوی جوړښت:**

استاد رشاد کښلی دي چې د شمایلنامې د نظم شکلی سکښت د غزلې او قصیدې په شان دی... دا شمایل نامه ۱۲۷ بیته ده، پنځه فصلونه لري او د پښتو نظم دوه عروضی شکله پکښی کار شوی دی. د کابل پوهنتون په خطی نسخی کې ځای ځای دغه دوه وزنه سره ګډ شوي دي. معلومه نه ده چې په نورو نسخو کې هم دغه عروضی ګډوډی راغلې دي او که نه؟

(دخمکنو میا عمر(رح) ۵۳ – ۵۴ مخونه)

ما د شمایل نبوی(ص) په مقدمه (۱۳ مخ) کې ویلي دی چې د شمایل نبوی ژبه درنه نه ده، خو نظمونه یې رسایي نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو کله چې ما د میا عمر(رح) د شمایل نبوی څلور نورې نسخې وکتلې او د کابل پوهنتون ه نسخې سره مې مقابله کړې، نو را ښکاره شوه چې د رسالې شکلی جوړښت په ټولو نسخو کې یو شی دی.

له اصل سره د نورو نسخو له مقابلې زه پدې باوری شوم چې میا صاحب دا رساله د مسجع نګارانو د منظوماتو غوندې جوړه کړې ده. که چیرې موږ د شمایل نبوی ټوله رساله وګورو نو د مسجع نګارانو د منظوماتو رنګ و بوی لري او زما په پوهه میا صاحب په قصدی ډول پدې سبک لیکلی ده یا لا اقل زه داسې فکر کوم. که به داسې نه وي، نو میا صاحب خو د خلاصهٔ کیدانی ترجمه په رسا نظم ترجمه کړې او نور منظومات یې چې د خلاصی له ترجمې سره مله راغلي دي، ګرده روغ نظمونه دی چې د رسالې له مخې د شمایل نبوی له نظمونو سره د مقایسې وړ نه دي.

د آخوند درویزه (۹۴۰ – ۱۰۲۸ هـ ق) د شمایل نامی ځینې برخې:

د حضرت رسول جمال و خدای یوازې پیدا کړی<br>
او عالم آدم لا نه و چې نبی یې و هم انبیا کړی<br>
دوه یې توری غټې سترګی هم یې کښلی<br>
لوړه پوزه هم یې توره ګرده ږیره کښلی

(مخزن الاسلام، ۱۱۹)

د درویزه(رح) او نورو مسجع نګارانو په مسجع منظوماتو کې همدغسې وزنونه سره ګډ دي.

**(۶) د شمایل نبوي د لیکلو په باره کې:**

په قدماوو کې دا دود و چې که به یې خپل کتاب د چاپ غوښتنه تألیف کړی و، نو به یې په مقدمه یا موخره کې د هغه محرک یادونه کوله. میا صاحب هم دا کار کړی دی او خپل هغه آثار چې یې د خپلو زامنو او نورو په غوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظم، ترجمه یا لیکلي دي، د هغوی یادونه یې کړې ده. اما د شمایل نبوي په پای کې دا مسرۍ:

موسی، عیسی می مادري پدری وروڼه
شمایل و پښتو ژبې ته راغب د دین په حال

زما په پوهه میا صاحب د شمایل نبوی(ص) دا حاضره رساله د خپلو وروڼو موسی او عیسی په غوښتنه نظم کړې ده.

د لوړو یادښتونو په پای کې زه له پوهنوال محمد اسمعیل یون څخه ډیره منته کوم چې دده یادونو دا رساله د چاپ جوګه کړه، که به نه وي شاوخوا پنځه ویشت کاله دا رساله تیاره زما په کاغذونو کې پرته وه، همدا راز ښاغلی محمد شعیب شیرزی د ډیرې مننې وړ دی چې دا رساله یې په ډیر زیار او کړاو زما له کاغذونو کمپوز کړه.

په درناوی

سر محقق زلمی هیوادمل

دلو. ۱۳۹۴ هـ ش، کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**نحمده و نصلی علی رسوله الکریم.**

**هسې خوشبویه شمائل تا د نبی(ص) جوړ کړي**
**چې لږ مخې دده د بوي عطر و ګلاب نه وینم**

(مولانا دادین)

ښاغلی هیوادمل زلمی اګر کهٔ د خپل عمر لـه مخه زمـونږ د موجـوده دور پـه وروسـتیو لیکوالـو کښـې دی - ولـې د پښـتو ژبې او ادب په بې لوثه خدمت کښې قطع نظر د یو څو مشرانو لیکوالو، په وړومبي صف کښې خورا ډیر جوت مقام لري - زه ښاغلی زلمـی لـه هغـه وختـه پیـژنم څه وخت چې موصـوف پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان د روسي جارحيت په نتيجه کښې د کال ۱۹۷۹ع په اوړی کښې د ښاغلي حبيب الله رفيع سره پېښور ته د يو مجاهد او مهاجر په حيث راغلو، نو د خپلو ملي فعاليتونو سره سره يې خپلو ادبي فعاليتونو ته سم دوام ورکړو - د کوزې پښتونخوا د هر ښهر داسې کتابتون به نه وي، چې هغه به د پښتو د زړو آثارو پسې چاڼ کړې نه وي - د مهاجرت په دوران کښې د ذکر شويو ادبي فعاليتونو، او دغه نه وړاندې او بيا وروستو هم چې ښاغلي زلمي د ژبې او ادب د خدمت دپاره د افغانستان او هند په ګُټ ګُټ د پښتو ادب د زړو آثارو د تحقيق او لټون دپاره کوم زيارونه ګاللي دي، هغو د ستائيلي د ادبي کاوشونو د ستائېنې شمله، حقيقت دا دی چې ښۀ جګه کړې ده.

هسې خو که څوک وغواړي د موصوف په ادبي خدماتو روغ کتاب ليکلی شي، خو هر کله چې دلته زما مقصد د ښاغلي هيوادمل زلمي په ادبي خدماتو تبصره نه ده، بلکې د نامتو او مشهور روحاني، عرفاني او ادبي شخصيت د څوکنو د ميا عمر(رح) صاحب په يوه رساله " شمائل نبوي" د موصوف د تحقيقي خيړنې چې د هغه د تاکلي ليارې د سلسلې يوه ډېره اهمه او مهمه کړی ده او ميا عمر صاحب په څنو نورو مذهبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ادبي آثارو چې د ښاغلي مرتب دپاره يې يادګيرنه ضروري وه، مختصر غونډې ذکر کول دي - لکه:

ا - شمس الهدی: - ميا عمر (رح) صاحب د څوکنو دا کتاب د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د مور و پلار د نجات په موضوع ليکلی دی - د کتاب د ليکلو کال ۱۱۸۳ هجری دی. تقريباً څلورنيم سوه صفې لري.

يوه قلمي نسخه ئې د اسلاميه کالج پېښور په کتابتون کښې موجوده ده. د کتاب پوره نوم "شمس الهدی بدر الدجی فی ذکر ايمان والدی خير الوری" دی - کتاب په عربي ژبه دی.

ب - اللآلی علی نهج قوافي الامالی: د علم توحيد په موضوع په ۳۲۴ اشعارو د عربی قصيدې نه په پښتو ژبه منظومه ترجمه ده چې حضرت ميا عمر (رح) صاحب د خپلو ځامنو محمدی صاحبزاده او احمدي صاحبزاده په خواهش کړې ده، دا د علامه محمد الا و شي د قصيدې "المالی" په طرز ليکلې شوې ده - په ورومبي ځل د کراچۍ نه شائع شوې ده. د اشاعت د تاريخ پته يې نه لګي - يوه چاپی نسخه ئې د پېښور پوهنتون د اسلامياتو د شعبې د پخوانی چيئرمين مرحوم مولانا عبدالقدوس په کتب خانه کښې محفوظه ده.

ج - ظواهر السرائر: دا کتاب نزدې په اتو سوو مخونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشـتمل دی - د حضـرت شـیخ سـعدي لاهـوري او ورسـره د حضرت سید آدم بنوري(رح) د ژوند پـه حـالاتو او مؤلـف د زمـانې او علاقې د نقشبندي عـالمـانو او صـوفیانو وغـیره ؤ د تعلقـاتو په حالاتو په فارسي نثر کال. ۱۱۱۲ هجري کښې لیکلی شوی دی - ښاغلي هیوادمل زلمی دا کتاب د "خزینة الاسرار" قاضي عبدالحلیم اثر مرحوم د "سیر الاسرار" او "خزینة الاسرار" مفتـي غلام سرور لاهوری او محمـد دیـن حکیم دواړو پرلـه پسې پـه خپلو کتابونو "خزینـة الاصـفیاء" او "لاهور میں اولیاے نقشبند کی سرگرمیاں" د "جواهر الاسرار" په نومونو یاد کړی دی - هر کله چې د کتاب خپل صحیح نوم "ظواهر السـرائر" دی - مؤلـف لیکي:

" پس این مجموعه را کـه متضـمن آن سـخنان بودمسـمی و نامیده شد به "ظواهر السـرائر" و از نـوادر اتفاقـات آنکـه تـاریخ اتمـام کتـاب "ظـواهر " از عـدد حروف وی کـه یـک هـزار و یـک صد و دوازده است، اتفاق افتاد"

د - المعـالی شرح قصیده امـالی: اگـر کـه دغـه کتـاب ذکـر ښـاغلی مرتـب پخپلـه مقدمـه کښـې کـړی دی - بایـد دا څـو نـور معلومات هم ور زیات شي - کتاب په یوه مقدمه لسو بابونو او ۹۳۸ صـفحاتو مشـتمل دی - د بـاطلو عقیـدو رد دی. کتـاب د

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحبزاده عبید الله میان ګل په خواهش په فارسۍ ترجمه شوی دی - کتاب په دغو الفاظو ختمیږي.

"به اتمام رسید این مسمی به معالی شرح قصیدهٔ امالی تصنیف حضرت زبدة السالکین، عمدة المحققین قدوة المتورعین میان صاحب میان محمد عمر(رح) څمکنی موجب فرموده صاحبزاده عالی جناب فیضمآب صاحبزاده میان ګل جیو ولد میان صاحب معزالیه به دستخط فقیر حقیر محمد شفیق ختک تحریر یافت واقعه محرم ۱۲۲۹ هـ"

مولانا نور محمد پخپل کتاب "نورالبیان" کښې د میاعمر(رح) صاحب د پیدائش پخپله د هغوي خپل بیان داسې نقل کړی دی.

د جمعې د شپې سحر وهٔ  چې پیدا زما بشر وهٔ
د صفرې وه غُره  چې دائې مې کړه سوره

د څوکنو د میاعمر(رح) د پیدائش کال قاضي عبدالحلیم اثر مرحوم ۱۰۸۴ هجري او ښاغلي هیوادمل زلمي ددغه رسالې په مقدمه کښې د محترم رشاد صاحب په حواله ۱۰۸۰ هجري ښودلی دی - دغه رنګ د دواړو محققینو تر مینځه د څلورو کلونو فرق دی. د محترم رشاد صاحب مؤقف دا دی، چې که حضرت میا عمر(رح) صاحب د څوکنو په کال ۱۰۸۴ هجری

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې پیدا شوی وي، نو بیا په کال ۱۰۹۹ هجري کښې د علمي زدکړې دپاره کابل ته د هغوي تلل ناشوني خبره ده – حالانکې په کال ۱۰۸۴ هجري کښې د پیدائش له مخه په کال ۱۰۹۹ هجري کښې د میاعمر (رح) صاحب عمر تقریباً پنځلس کلونه کیږي. او که هغوی په پورته ذکر شوي کال د علم د حصول دپاره کابل ته تللي هم وي، پنځلس کلنۍ کښې د علم د حصول دپاره چرته تلل د یقین وړه خبره ده.

د مولانا نور محمد د پورته ذکر شویو شعرونو له مخه میاعمر (رح) صاحب د جمعې په شپه سحر یعنی د جمعې په سحر زیږیدلی دی. د شعرونو له مخه که د دواړو کلونو د صفر غره حساب کړی شي، نو د کال ۱۰۸۰ هجری د صفر د میاشتې غره (د میاشتې وړومۍ ورځ) د عبدالقدوس هاشمي د "تقویم تاریخي" په حساب د دوشنبې د (پیر) ورځ ده. او د کال ۱۰۸۴ هجري د صفر د میاشتې غره د پنجشنبې (زیارت) ورځ ده. شعر کښې هم د جمعې شپه یاده شوې ده. چې د زیارت (پنج شنبې) ورځ ترې مراد دی. په دغه حساب د میا عمر صاحب د زو کال ۱۰۸۴ هجري صحیح ښکاري.

وفات: د کاظم خان شیدا او صاحبزاده میابازګل نه علاوه مولانا دادین چې د حضرت میاعمر صاحب مرید او هغو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنازه کښې شامل وه، هم د میاعمر صاحب د وفات تاریخ په لاندې شعر کښې وئیلی دی

سن غصق د پنجشنبې په ورځ ای جانه
د رجب په غرې لاړ ښه له جهانه

د "تقویم تاریخی" په حساب د کال ۱۱۹۰ هجري د رجب وړومبۍ ورځ د جمعې ده – هر کله چې مولانا دادین د پنجشنبې (زیارت) ورځ ښودلې ده – د پنجشنبې ورځ د جمادي- الثانی آخري ورځ ده – په ورځ کښې د غلطۍ امکان د جمادي- الثاني په وروستۍ او رجب د وړومبۍ ورځې د فرق په مقابل کښې کم دی- ځکه نو کیدی شی چې میاعمر صاحب د رجب په وړومبۍ ورځ نه، بلکې د جمادي الثاني په وروستۍ ورځ وفات شوي وي، چې د پنجشنبې (زیارت) ورځ ده.

په آخر کښې د ښاغلي مرتب دپاره دعا کوم چې د پښتو ژبې او ادب دپاره دې الله تعالی ډیر عمر او پښتنو ته د قدردانۍ توفیق ورکړي. اللهم آمین

مآخذ:

١ـ روحانی رابطه او روحاني تړون، مؤلف عبدالحلیم اثر افغانی

۲- حیات و آثار حضرت میا محمد عمر چمکنی رحمة الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

علیه، از ډاکتر محمد حنیف چئیرمین شعبهٔ دینیات اسلامیه کالج پیښور

۳- دیوان کاظم خان شیدا ، مرتب همیش خلیل

۴- تقویم تاریخي قاموس، عبدالقدوس هاشمی

همیش خلیل

۱۱ ستمبر (جمعه) ۱۹۹۲ع

۱۲ ربیع الاول ۱۴۱۳ هجري

اتم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (اجر خان زهیر) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته يې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library




د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۷۶

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**